# د "ژنګ" د اجتماعي لاشعور يوه کوټلې مطالعه

پروفيسر محمود اياز

**Abstract:** Professor Mehmood Ayaz, strive to explore Zong's conception of the unconscious that has influenced leading literary trends. The paper also introduces the philosophical and psychological notions of Zong to the Pashtoon writers and also present the probability of its utilization in practice.

د کارل ګستاؤ ژنګ په نفسياتي نظرياتو باندې د پېپيل کولو نه وړاندې غوره خبره به دا وي چې د نفسيات په ارتقائي سفر خپله نميګړې شان مطالعه د ادب لوستونکيو سره شريکه کړم. دا حقيقت په خپل ځائ د منلو وړ دی چې د نفسياتي بحث و مباحثې تخم يا ښکاره نخښې مونږ په لرغوني مذاهبو او اسطورو کښې ښېخي په اسانه په ګوته کولی شو، ګوا د دې معنا دا ده چې د نفسيات علم خپله ډېر زوړ، لرغونی او قديم دی، بلکې داسې وئيل به زيات مناسب وي چې دغه علمي يا د دغه علم مباحث خو له هغې ورځې په وجود کښې راغلي دي له کله چې دغه حضرت بنيادم د شعور او عقل په دنيا کښې اول ګام ايښی دی، تجسس ګرسره ښېخي له اوله سره له بشره سره شاملِ حال پاته شوی دی او دا خواهش به هم په هغه ورځ د هغه په ذات کښې را زېږېدلی وي په کومه ورځ چې بنيادم خپله په دې نابوده دنيا کښې سترګې غړولې وي چې هغه خپله څوك دی او د هغه د خالق حقيقت څۀ دی؟. او دا سوالونه به هم د هغۀ په ذات کښې په هم دغه اثناء کښې را پيدا شوي وي چې هغه بايد د ځان او د هغۀ د جوړوونکي (خالق) د حقيقت سره اشنا شي. د نفسيات د علم دغه اصطلاحات لکه روح، نفس، ذهن، شعور او لاشعور زاړۀ او لرغوني بلکې ډېر بنيادي اصطلاحات ګڼل کېږي او غالباً د نفسيات علمي او فکري ارزښت هم د دغو اصطلاحاتو له کبله دی. د دې مطلب دا نۀ دی چې ګنې نفسيات د ذکر شويو اصطلاحاتو نه په پرته نور اصطلاحات نۀ لري، نۀ خو له دغو اصطلاحاتو هندي اسطوره او فلسفه خلاصه ده او نۀ د قديم يونان تصور او تعقل له دغو بنيادي اصطلاحاتو نه عاري پاته شوی دی. د دغو اصطلاحاتو نور او سرور د

صوفيانو او شېخانو په خانقاوو کښې هم په شدت سره په ګوته شوی او په چرچ کښې هم د دغو اصطلاحاتو رڼا پادريانو په خپلو سترګو ليدلې ده. خو د دې باوجود نفسيات يا علم نفس نۀ علم اليد دی او نۀ د تصوف علم، بلکې نفسيات خو د انساني ذهن او د هغه د کرداري محرکاتو د تفهيم مطالعه او مشاهده ده.ډاکټر سليم اختر په خپل کتاب نفسياتي تنقيد کښې د علم نفسيات تعريف داسې کړې دی:

"علمِ نفسیات معرفتِ نفس بھی ہے اور علم انسان بھی، تخلیق بھی متنوع انسانی وظائف میں سے ایک ہے اور جس طرح نفسیات دیگر انسانی صلاحیتوں او استعدادوں کا پیمانہ بنتی ہے، اسی طرح وہ تخلیقات کا بھی جائزہ لیتی ہے، تمام عقیدے یکے بر عکس نفسیات صرف جنس، لاشعور یا تحلیل نفسی کے بھی مترادف نہیں ان کی ہمہ گیری کا اعتراف کرتے ہوئے بھی اس امر پر یقیناً زور دیا جا سکتا ہے کہ آج کی نفسیات میں کلچر، تہذیب، اساطیر اولوک ادب سے بھی اسی گہری دلچسپی کا اظہار کیا جاتا ہے جتنا کسی مریض کی تحلیلِ نفسی سے"(1)

د علم نفسيات يو شمېر تعريفونه د دې علم استاذانو په خپل خپل شخصي فکر وړاندې کړي دي. خو د دې علم زيات استادان او پوهان نن هم په دې خبره متفق دي چې تراوسه پورې د دې علم داسې جامع او کوټلې تعريف نۀ دی شوی چې په کماحقه، معيار باندې پوره وخېژي. شايد ځکه لېفټيننټ کرنل خواجه عبدالرشيد د خپلې اختلافي رائې ښکندونه داسې کوي. هغه وايي چې:

"علم النفس کی متعدد تعریفیں کی جا چکی ہیں مگر ان میں سے ایک بھی ایسی نہیں جو اس اصطلاح کو پوری طرح واضح کر کے زندگی کے افادی پہلو پر روشنی ڈالتی ہو، اکثر کتابوں میں جو تعریف ہم کو ملی ہے، وہ یوں ہے علم النفسیات، ذہن اور ذہنی عملیہ (Mental Processes) کا علم ہے". (2)

ګـوا خواجـه موصـوف د علـم النفسـيات شـوي تعريفونـه نامکمـل او نـاقص بـولي، د هغـۀ پـه خپـل شخصـي فکـر د علـم الـنفس تعريـف پـه يـو ځـو تورو کښې داسې کېدای شي چې:

"یہ ایک ایسا علم ہے جو انسان کے طرز عمل (Behaviour) کی تحلیل (Decipherment) اور (Interpretation) تعبیر کرتا ہے". (3)

د علم النفسيات کوم تعريف غوره دی او کوم ئې نيمګړی، نامکمل يا ناقص، دا په خپل ځای ځان ته يو علمي بحث دی او کله کله دغه مباحث د بحث برائی بحث بڼه هم خپله کړي. نو ځکه په دې باندې اکتفا کول به زياته غوره خبره وي چې د زېر

بحث علم هر تعريف د دې علم د تفهيم په اړه د نفسيات يا د علم النفس اصطلاح څهٔ نا څهٔ روښانه کړې ده خو د دې علم د تاريخي تسلسل او شواهدو په ترڅ کښې دومره وئيل به مبالغه نهٔ وي چې د قدامت په لحاظ د دغه علم کړيانې يا اثرات د علم النفس استاذانو تر افلاطون او اطالوي نقاد لان جائي نس پورې رسولې دي. بلکې د تېرو هېرو تهذيبونو او اسطورو په ټولنيز ژوند کښې لاهم د دې علم تتې او مبهمې اشارې ادب پوهانو په ګوته کړې دي. که دلته د کالرج يادونه و نهٔ شي زما په شخصي فکر به لويه بې انصافي وي ولې چې په معاصرو نقادانو کښې دغه نوموړې شخصيت د زيات ژور فکر او نظر خاوند ؤ. د نفسياتي نقاد په حېث تي. ايس. ايليټ او هر برټ ريډ دواړه د کالرج د نفسي مباحثو اعتراف کوي بلکې هربرټ ريډ خو په خپله يوه ليکنه "The True vice of feelings" کښې کالرج اولنی نفسياتي نقاد ګڼي د دوئ په خيال "کالرج پہلا نفسیاتی نقاد ہی نہیں بلکہ ادبی تنقید میں لفظ Psychology بھی پہلے اسی نے استعمال کیا".(4)

که د اختصار کليه خپله کړو او دا ووايو چې ګرسره په ښخې ابتدائي ژوند کښې بنيادم د روح، خوب، مرګ، ناروغي او د خوف له تصوراتو سره اشنا شوی بلکې سهار ماښام د دغو تصوراتو له کبله له نفسياتي کشمکش سره مخامخ پاته شوی دی نو مبالغه به نهٔ وي. په دې کښې د روح تصور او د روحيت تعقل د علم النفس په اساس د زيات ارزښت وړ بلل کېدای شي د لرغونو تهذيبونو نه بيا تر نن ورځې پورې علم النفس د ارتقائي تسلسل په لحاظ تر مختلفو پړاوونو را تېر شوی دی او تراوسه پورې په کښې بېلا بېل مکتبونه پرانستل شوي او په خپل خپل ځائ ئې کليدي او اهم رول لوبولی دی.

دا يو منل شوی حقيقت دی چې د سګمنډ فرائيډ د لاشعور تعقل په نفسياتي تنقيد کښې د اساسي اهميت وړ ګرځېدلی دی او د دغه تعقل په رڼا کښې د هغهٔ د تحليل نفسي نظريه څکه د زياتې ستائينې وړ ده، ولې چې د هم دغه تعقل يا نظريې په سوب په انساني فکر او سوچ کښې بلا تبديليانې راغلې. او د نفسياتي تنقيد دپاره ئې نوې نوې لارې هوارې کړې دي. زياته مناسبه خبره به دا وي چې د تحليل نفسي نظريه د ادبي اصنافو او د تخليقي بصيرت دپاره د تغير نوې نوې

لارې پرانستلې او د اظهار او ابلاغ دپاره ئې نوی بنیاد کښېښود. د علم النفس په شعبه کښې بلا شك و شبه سګمنډ فرائيډ یو ځانګړی قدآور شخصیت ؤ. په شلمه پېړۍ کښې بل یوۀ ماهر نفسیات د دوئ سیالي او همسري نۀ شوه کولی. خو د همدغې پېړۍ ستر تجربیت پسند ګستاؤ ژنګ یواځینی عالم ؤ چې د نفسیات په میدان کښې ئې د فرائيډ د علمي بصیرت نۀ یواځې همسري کولی شوه بلکې خپل تعقلات ئې د تحلیل نفسي په اړه د تحلیل نفسي د باني سګمنډ فرائيډ ځخه زیات قوي او د ارزښت وړ بلل.

د تحلیل نفسي استاذ ګستاؤ ژنګ د شلمې پېړۍ یو قدآور شخصیت او معتبر نوم دی. ژنګ په 1875ء کښې د سوئیزر لېنډ په کیسول ښار کښې زېږېدلی دی ، د طب درس ئې په باسل پوهنتون کښې ترسره کړ او بیا یو ځۀ موده په زیورخ پوهنتون کښې د دماغي طب استاذ ولګېدۀ. غالباً 1907ء کښې ئې د سګمنډ فرائيډ سره په دې آنا کښې اولنی ملاقات شوی ؤ. کله چې ګستاؤ ژنګ د تحلیل نفسي د نړیوال کانګرس صدر منتخب شو په هغه زمانه کښې لا هغۀ د فرائيډ د تحلیل نفسي د نظریاتو او احساساتو سره هم آهنګ او متفق ؤ. خو دغه علمي اشتراك او هم آهنګي صرف تر درې کالو پورې ژوندۍ پاته شوه. ژنګ چې د خپلو علمي تحقیقاتو لار د فرائيډ د متعینې شوې لارې نه بېله کړه نو سمدستي د تحلیل نفسي مکتب په دوو مکتبونو کښې تقسیم شو. فرائيډ د لاشعور د تصور کلك پلوی ؤ. او ژنګ اوس د لاشعور د تصور پر ځائ د اجتماعي لاشعور تصور د تحلیل نفسي په اړه زیات اهم او معني خېز بللی، نو ځکه ژنګ د بنیادم د باطني او نفسي دنیا د نامعلومو رازونو او حقائقو د رابرڅېره کولو په خاطر د اساطیرو او د دنیا د بېلا بېلو مذهبي عقایدو ژوره مطالعه وکړه او خپلو علمي تحقیقاتو په ترڅ کښې ئې په دغه اړه یو شمېر نوي حقائق رابرڅېره کړل. شاید دغه وجه ده چې د شلمې پېړۍ هره فکري تجزیه د هغۀ د ذکر نه بغېر نیمګړې او تشنه معلومېږي.

د فرائيډ په خیال زمونږ د نفسي زندګۍ دار و مدار په لاشعور باندې انحصار لري ولې چې د شعور حیثیت د تحلیل نفسي د دې ستر استاذ په نزد ثانوي دی. د

لاشعور تر حده خو ژنګ د فرائيډ د تصور سره هم خيال ښکاري او هغهٔ خپله هم لاشعور ته د نفسي زندګي په اړه ډېر اهميت ورکاوۀ خو د ژنګ په خيال:

"ہمارا لاشعور دو طرح کا ہوتا ہے شخصی یا ذاتی لاشعور (Personal unconscious) اور اجتماعی لاشعور (Collective unconscious) شخصی لاشعور فرائیڈ کے لاشعور سے مشابہ ہے وہ اسے فرد میں ہونے والی تمام حرکات و سکنات کا گودام کہتا ہے، وہ تمام مواد جو شعور میں رکھنا ممکن نہیں یا جسے معاشرتی دباؤ کی وجہ سے شعور میں سے نکال دیا جاتا ہے ان اشیاء کا حقیقی طور پر ارتقاع (Sublimation) نہیں ہو پاتا چنانچہ یہ مواد شخصی لاشعور میں منتقل ہو جاتا ہے، خواہشات کو دبا دینے کے بعد مخیلات (Fantasy) اور دن سپنوں میں بسنا شروع کر دیتا ہے، اور اس طرح وہ اپنی نا آسودہ خواہشات کی تشفی کر لیتا ہے"(5)

خو د کارل ګستاؤ ژنګ چې کوم د اجتماعي لاشعور تعقل وړاندې کړې دی د هغهٔ دغه نظريه مونږ په څو تورو کښې داسې را غونډولی شو چې اجتماعي لاشعور په اصل کښې د Arche types دنيا ده او دغه د اجتماعي لاشعور دنيا د فرائيډ د لاشعور د خواهشاتو د وېروونکې کمين ګاه يا دنيا څخه يوه مختلفه دنيا ده. د ژنګ په دغه دنيا کښې د نور او سرور ژوند له ورايه په غورځنګ ښکاري. کله هغه و خپل دې تصور ته د اجتماعي لاشعور نوم ورکوي او کله ورته ژنګ Primordial images ګوا ښېخي اولين قديم تمثالونو په نامه يادوي. او کله ئې د نخست مثالي نفس (Archetypes) په نامه يادوي دغه اجتماعي لاشعور يا آرکی ټائپس (نخستمثال) و څهٔ ته وائي. په دې حقله د ژنګ خپل احساسات دلته نقل کول ښېخي ضروري دي.

"ژنگ نے کہا ہے کہ بچے کو پیدائش کے وقت جہاں کچھ جسمانی خصوصیات ورثے میں ملتے ہیں، وہاں کچھ نفسیاتی خصوصیات بھی وراثت میں ملتی ہیں یہ خصوصیات انفرادی نہیں بلکہ اجتماعی ہوتی ہیں یعنی ہر انسان میں ایک ہی اجتماعی لاشعور پایا جاتا ہے، اجتماعی لاشعور میں ان تجربات کا نچوڑ ہوتا ہے جو کہ انسان ہزاروں سال سے کرتا چلا آرہا ہے، ان تجربات کے نچوڑ کو ژنگ نے نخستمثال (Archetype) کا نام دیا ہے" (6)

دغه رنګه د آرکي ټائپ تفهيم د نفسيات استاذانو داسې هم کړې دی چې په اجتماعي لاشعور کښې هغه موجود تصورات او رجحانات کوم چې د بنيادم د زرهاوو کلونو د تجرباتو يوه کوټلې خزانه او سرمايه بلل کېږي، فرائيډ د بنيادم په فطري جبلتونو باندې خپله ټوله توانائي

صرف کړې وه. ولې ژنګ خپله د نخست مثال يا آرکي ټائپس د تصور تفهيم په مختلف انداز کښې په بېل بېل رنګ کښې بيان کړی دی يو ځائ داسې وايي:

"نخست (قدیم، اولین) مثالیں انسانی ذہن کی ساخت میں موجود ہیں جب یہ شعور میں ظاہر ہوتی ہیں تو نورانی اور ماورائی قسم کے جذباتی تاثر ساتھ لاتی ہے" (7)

دغه رنګه هم دغه آرکي ټائپس يا اجتماعي لاشعور د آفاقي تجربو بنيادي سانچې ګڼې د نفسياتو د ستر استاذ د فلسفيانه قياس آرائي او کليه سازي ښکاره مخالف ؤ. مدافعين ئې بېخي کم او مخالفين ئې زښت زيات ؤ. چا به پرې د مذهبو د روحانيت د علمبردارۍ تور لګاوه. د عقليينو (عقل پرستانو) په خيال د غير عقلي رويو يو عام روماني ؤ. او ځينو د تېرو هېرو تهذيبونو د توهماتو کلك پلوی ګڼلو. يا د توهم پرستي د بيابان په ګڼ لوګي کښې يو ورك شخصيت بللی. خو د هغهٔ په خپل شخصي فکر هغه يو ريښتنی تجربيت پسند ؤ. د بنيادم د ذات، د هغهٔ د داخلي دنيا د نهامو رازونو د دريافت حقيقت ته که يو څوك په حقه معنا رسېدلی ؤ. هغه کارل ګستاؤ ژنګ ؤ. نهٔ يوائې دا هغهٔ خو د ادب او علم النفس د ترون او تعلق په اړه هم د اجتماعي لاشعور په تعقل باندې خورا غور او فکر کړی ؤ. د شلمې پېړۍ په ادبي تنقيدي بصيرت کښې ئې د نوې اضافې دپاره يوه بله دروازه پرانستله. او د اساطيري تنقيد د باني په اساس ئې ځان په ادبي دنيا کښې متعارف کړ. په ادب کښې موجود نهام آرکي ټائپس ئې را برڅېره کړل. او د لرغونو اسطورو په داستانونو او نقلونو کښې ئې هغه کار فرما لاشعوري سانچې په ګوته کړې کومې چې د انساني فکر د احاطې او دائرې څخه بهر وې. د استاذ د همدغه تعقل له لارې د ادب د پس منظر ډېر نهام جهتونه را برڅېره شول. او د ادبي تنقيدي بصيرت دپاره يوه نوې لاره هواره شوه. په ادب باندې اول د فرائيډ نظري مباحث حاوي وو. خو وروسته دژنګ تعقل او تصور په ادب او ادبي تنقيد کښې ډېر ځائ او اهميت پيدا کړ. فرائيډ او ژنګ صرف دوه شخصيات نهٔ وو بلکې دوې ځانګړې نفسي ادارې وې. بلکې دا هر

يو په خپل ځای د يو مکتب فکر په اساس پوره سړی ؤ. خو دا خبره په خپل ځای د منلو وړ ده چې د اعتقاداتو په لحاظ هم دا دواړه شخصيات دوه جلا جلا مرکزونه وو. د ژنګ په خيال فرائيډ د تحليل نفسي کړيانې هسې له عقائدو سره پيوند کوي. له دې سره سره هغه فرائيډ او ايډلر د بصيرت خاوندان خو بلل خو د هغهٔ خيال دا ؤ چې د دوئ موضوعات د وسعت په اساس محدود دي. د اردو ژبې معروف اديب، دانشور او شاعر شهزاد احمد په همدغه تناظر کښې د ژنګ په فکري مباحثو نيوکه په يو څو تورو کښې داسې کوي:

"وہ خود ادعائی (Dogmatic) رویے کا حامل تھا مگر اس کے یہ اعتقادات فرائیڈ کے اعتقادات کے مخالف تھے".(8)

د تحليل نفسي د نظري مباحثو په اساس د ژنګ خيالات او احساسات د فرائيډ په مقابل کښې زيات قوي ښکاري. ولې چې د ژنګ په نظرياتو کښې د رجائيت نور او سرور بنيادم له ورايه محسوسوي او انسان د فرائيډ د لاشعورد تعقل په حساب ځان دومره بې وسه نهٔ احساسوي. استاذ ژنګ د مثاليت پسندئ Idealism د يوهٔ نوي شعور پامتدار ښکاري. د هغه د تجزئې او مشاهدې په اړه انسان يو خود مختار او ازاد فطرت لري. په همدغه اساس هغه د بنيادم د خارجي ماحول څخه يو مخ بېل کړ. د تحليل نفسي ناقدين دا هم وايي چې د ژنګ نظريات په اصل کښې د سرمايه دارانه نظام نه د مايوسئ په رد عمل کښې منظر عام ته راغلي دي. ځکه هغه د بنيادم د ذهني کيفياتو او داخلي وارداتو سره سره د هغهٔ مذهبي شعور او لاشعوري محرکاتو ژوره مطالعه وکړه. ولې چې هغهٔ انساني نفس يو پر اسرار حقيقت بللی او د بنيادم په ذات کښې د موجودو تضاداتو مطالعه ئې حتمي او ضروري وبلله. ولې چې د هغهٔ په خيال چې همدغه تضادات در اصل د فرد په نشو نما کښې ډېر مهم او کليدي رول لوبوي. ځکه د هغهٔ د دې تاريخي دريافت نه هېڅوك انکار نهٔ شي کولی. د تحليل نفسي په اړه د هغهٔ د کوټلي مطالعې اندازه مونږ د دې يوهٔ مثال څخه هم په اسانئ سره کولی

شو، پروفیسر سهیل احمد دغه مثال په خپل کتاب کښې داسې راوړی دی:

"ژنگ نے ایک اندازے کے مطابق تقریباً سٹر سٹھ ہزار خوابوں کا تجزیہ کیا، ان خوابوں کی تمثالوں کے ذریعے سے وہ ان اساطیری وصفوں تک پہنچا جو دنیا بھر کی لوک کہانیوں، حکایات اور اساطیر میں ملتی ہیں، ان کے آفاقی ہونے کا مطلب یہی ہے، کہ یہ لاشعور کی دنیا کے ترجمان ہیں".(9)

ګوا د ژنګ اصل کار او مرام دا ؤ چې هغه د بنیادم و ذات یا داخلي دنیا ته ځان ورسوي ولې هغهٔ دغه پر اسراره دنیا هم د زندګۍ یو علاقه بلله. ځکه هغهٔ د دغې دنیا دریافت او انکشاف د زیات اهمیت وړ بللی. په هم دغه تناظر کښې د انګلېسي یوه نوموړې شاعره کېتهلین رین د ژنګ د نظري مبحث ګوا د اجتماعي لاشعور سره د اعتراف په توګه خپله هم آهنګي داسې څرګندوي:

"میرے خیال میں ژنگ کے ذمے ایک خاص فریضے کی ادائی تھی، اور وہ یہ کہ اس صدی میں نفس کی ان اندرونی دنیاؤں کو پھر سے منکشف کیا جائے، جو قطعی طور پر گم ہو چکی تھیں، فرائیڈ نے یقیناً لاشعور کو دریافت یا از سرِ نو دریافت کیا، لیکن اسے ایک لمحے کے لئے بھی یہ احساس نہیں ہوا، کہ اس نے دراصل کتنے بڑے براعظم کو دریافت کر لیا تھا، میرے خیال میں ژنگ نے یہ بھانپ لیا کہ اندرونی دنیائیں علم کے محض ایسے منطقے نہیں ہیں، جنہیں شعور سے بالجبر پرے دھکیل دیا گیا ہو"(10)

که په ذکر شوي اقتباس کښې چې د کیتهلین رین د رائې په صورت کښې مونږ دلته نقل کړی دی لږ غور او فکر وکړو نو لامحاله به دې نتیجې ته رسو چې د ژنګ اجتماعي لاشعور یا نخستمثال تعقل صرف یوه نظریه نهٔ ده، نهٔ صرف یو دریافت دی بلکې یوه عظیمه کارنامه ده. او د یوې داسې مثالي لارې تعین او انتخاب دی له کومې لارې چې مونږ د انسان د شخصیت کماحقه مطالعه کولی شو. د آرکي ټائپ اختراع یو مثالي اختراع ده. چې په خپل تصور کښې د معناوو یو ناتمامه دنیا لري. د ژنګ د تحقیقاتو محور په اصل کښې د بنیادم نفس ؤ کوم چې د هغهٔ په خیال د ذاتي تجرباتو نه ماورا دنیا ده. ګوا د دغې دنیا انکشاف او دریافت د هغه د تحقیق او لټون هدف ؤ. خو دلته د روان بحث سره سره

ځينې نفسي اصطلاحات هم بايد چې واضح شي لکه شعور، لاشعور او نخستمثال.

دا شی به غالباً هر بنيادم په شعوري او غير شعوري توګه محسوس کړی وي چې اخير څنګه يو خيال د انسان ذهن ته راشي او بيا نابېره غائب شي. د دې حقيقت تفهيم او ادراك د دې مثال په وساطت په اسانه کېدی شي چې:

"اگر ہم بہتے پانی میں مکڑی کا ایک ٹکڑا پھینکیں تو کبھی وہ ڈوب جاتا ہے اور کبھی پھر تیرنا شروع کر دیتا ہے، جب وہ نظر نہیں آرہا اس وقت بھی پانی میں موجود ہے مگر ہم اسے یکھ نہیں سکتے اسی طرح خیالات آتے اور غائب ہوتے ہیں. جب وہ غائب ہوتے ہیں یعنی کہ شعور میں نہیں ہوتے تو کس حالت میں ہوتے ہیں اس کا انداز ہم نہیں لگا سکتے" (11)

زما په شخصي فکر شايد د فرائيډ او لاشعور مصنف ايم اې قريشي په دې شي زيات غور نۀ دی کړی چې خيال غائب شي نو هغه چرته لاړ شي؟. زما په خيال هغه بېرته د لاشعور دنيا ته منتقل شي. خو د دې خبرې سره ئې اتفاق کېدای شي چې هغه په کوم حالت کښې وي؟. د دې اندازه مونږ نۀ شو کولی، ولې فرائيډ خپله د انساني ذهن د تفهيم په اړه خپل خيال داسې څرګندوي چې:

"انسانی ذھن کی مثال سمندر میں تیرنے والے برف کے اس تودے کی سی ہے، جس کا تھوڑا سا حصہ پانی کی سطح سے اوپر اور زیادہ حصہ پانی میں ہو، پانی سطح سے اوپر والے حصے کو وہ شعور اور باقی حصے کو لاشعور کا نام دیتا ہے" (12)

دغه رنګه د شعور او لاشعور د اصطلاحاتو وضاحت فرائيډ په څو تورو کښې داسې هم کړی دی:

"جب کسی چ°ز کا خیال بغیر اس کو دیکھے ہمارے ذھن میں موجود ہو، اور ہمیں اس کے متعلق سب کچھ معلوم ہو، اس کا پورا ادراک اور تعقل ہو. اس کی کیفیت کو فرائیڈ نے شعور (Conscious) کا نام دیا ہے، اور صرف انہی معنوں میں شعور کا لفظ استعمال کیا ہے، اور لاشعور (Unconcious) صرف ان خیالات کے متعلق استعمال میں لاتا ہے جو ذہن میں موجود تو ہوں، مگر ان کی موجودگی کا علم شعوری طور پر نہ ہو، (13)

اوس به راشو د نخستمثال اصطلاح ته، تر څو چې دغه اصطلاح هم په پوره توګه واضحه نۀ شي د ژنګ د اجتماعي لاشعور د تصور تفهيم او

ادراك امكان نۀ لري. په ابتدا كښې خو ژنګ د آركي ټائپ اصطلاح د نفسي خصوصيت د رابرڅېره كولو دپاره و كاروله. شايد دلته د دغې اصطلاح معنوي مفهوم تر يوې مخصوصې دائرې پورې محدود ؤ. خو وروسته استاذ ژنګ د همدغې معنوي لحاظ كله هغه نخستمثال ته د لاشعور نوم وركوي، كله ورته د ذهن بنيادي برخه وائي او دغه رنګه كله كله دغه اصطلاح د نفسي ژورتيا د نهامو عناصرو تشبيه په معنا كاروي او كله ئې موروثي غوندې ثيز بولي او كله د كرداري نمونې (Behavioural pattern) نوم وركوي او دا كرداري نمونې يا اركي ټائپ د حياتياتي اړخ سره ارتباط لري. دغه رنګه اولين تمثال مثالي ذهني قوت هم ګڼي. په جامع الفاظو كښې مونږ دا وئيلې شو چې د توانائي يوه داسې سرچېنه ده ې نفسي عمله په يوه تمثال كښې منتقل كولې شي. په علامت او نخستمثال كښې ډېر ژور تعلق دى، خو علامت ته مونږ نخستمثال نۀ شو وئيلې، نخستمثال خو له لاشعور سره تعلق لري خو دا د علامت په توګه يو واضح شكل او صورت خپلوي. دغه رنګه ژنګ په تمثال علامت او نښان كښې هم ښكاره او واضح فرق قائموي، د اجتماعي لاشعور مبحث كه هر څومره مونږ وځېړو. د دې تعقل څخه دغه نتيجه بهر حال راوزي چې ژنګ په اصل كښې د دې تعقل له لارې د شخصيت و معنوي حقيقت ته ځان رساوۀ. ګوا اصل هدف ئې د معانې د لټون ؤ. يا د وجود د وركو دنياوو تلاش صرف او صرف له دغې لارې ممكن ؤ. د نخستمثال د مزيد ادراك او تفهيم په اړه يو نخستمثال را اخلو. ژنګ د نقاب (Persona) د نخستمثال شرحه داسې كوي:

"ہر شخص کو زندگی بسر کرنے کے لئے نقابوں کی ضرورت ہوتی ہے، یہ نقاب ان کی سماجی زندگی کو مرتب کرتے ہیں، مثلاً ایک استاد جب اپنے طالب علموں کے سامنے ہوتا ہے، تو استاد نقاب پہنے ہوئے ہوتا ہے، وہ طالب علموں کے ساتھ اسی طرح پیش آتا ہے، جس طرح اس کے خیال میں استاد کو پیش آنا چاہئے، کتاب کا فائدہ یہ ہوتا ہے، کہ معاشرہ فرد سے جس قسم کے کردار کی توقع کرتا ہے. فرد اس پر پورا اترتا ہے، لیکن یہی خصوصیت نقاب کی کمزوری بھی ہے". (14)

ګوا په عمومي توګه فرد دغه نقاب د خپلو نورو کمزوريانو د پټولو دپاره کاروي. او ژنګ هم دا وائي چې د ذهني صحت کمال هم دا دی چې يو فرد بايد د حالاتو مطابق دغه نقاب بدلوي را بدلوي. په بل صورت کښې له ماحول سره مطابقت ممکن هم نۀ دی. دغه رنګه د ژنګ په خيال که چرته نفسي توانائي خپل وجود لري. نو هغه د دوو متضادو قطبينو (Poles) په ميان کښې موجوده وي او د هغۀ په خيال د ټولنې او د زندګۍ د پرمختګ راز په همدغو تضاداتو کښې مضمر دی. بلکې په انساني نفس کښې دغه تضادات ښخي اهم کردار لوبوي. لکه (محبت نفرت) (زوال ترقي) (رجعت پسندي ترقي پسندي) تر څو چې مونږ د دغو تضاداتو په حقله علم و نۀ لرو د شخصيت کماحقه مطالعه امکان نۀ لري.

د استاذ ژنګ په خيال شخصيتونه هم دوه قسمه دي. درون بين (Introvert) او بېرون بين (Extravert) ګوا درون بين شخصيت عموماً په خپل ذات او نفس کښې ورك وي. له خارجي دنيا او ماحول څخه لاتعلقه غوندې اوسي. خو بېرون بين شخصيت له ټولنې سره نزدې تعلق لري. هغه له ټولنيز ماحول سره همېشه هم آهنګ پاتې کېدل غواړي. د استاذ ژنګ په خيال په کوم بنياد کښې چې د دغه دواړه شخصيتونه برابر وي. هغه شخصيت عموماً کامياب شخصيت د يوې ټولنې دپاره ګرځېدلی شي. دغه رنګه د ژنګي نفسيات د کوټلې مطالعې دپاره دغه لاندينۍ څلور اصطلاوې هم په نظر کښې ساتل په کار دي لکه:

1: تحس Sensation د تحس نه مراد د حواسو له لارې ادراك کول دي.

2: احساس Feeling د احساس نه مراد د يو څيز خوښول او ناخوښول دي.

3: وجدان Iniulciny هغه خصوصيت چې په وسيله مونږ د راتلونکيو واقعاتو په لاشعوري توګه انداز لګوو.

4: تفکر Tnin King د تفکر نه مراد د سوچ او فکر استعمالول دي.

په همدغه حساب د شخصياتو قسمونه هم دي. لکه تحسي شخصيت، احساسي شخصيت، وجداني شخصيت او تفکري شخصيت، که چرته د ژنګ په خيال د شخصيت بنيادي اقسام دوه دي لکه درون بين او بيرون بين، نو بيا شخصيت په اتۀ قسمونو کښې مونږ داسې په ګوته کولی شو.

1: تحسي درون بين 2: تحسي بېرون بين 3: احساسي درون بين 4: احساسي بېرون بين 5: وجداني درون بين 6: وجداني بېرون بين 7: تفکري درون بين 8: تفکري بېرون بين

د ذکر شويو ټولو شواهدو او حقايقو له لارې مونږ دې نتيجې ته را رسو چې د يو شخصيت د تحليل نفسي دپاره د ذکر شوي مبحث اهمې نقطې او اصطلاحات په پام کښې نيول په کار دي. په دوېم صورت کښې د شخصيت مطالعه بېخي کېداى نۀ شي. که يو طرف ته د ژنګ ژنګي نفسيات د علم النفس استاذانو ستائيلي دي. خو ورسره ورسره د هغۀ په تعقلاتو نيوکې هم شوې دي. که صرف د نخستمثال (آرکي ټائپ) اصطلاح را واخلو نو کله کله د قاري شك په يقين بدل شي چې دغه اصطلاح په حقه معنا د ژنګ په ذهن کښې واضحه نۀ وه. ولې چې هغۀ دغه اصطلاح ځاىٔ په ځاىٔ په بېلا بېلو معناوو کښې کاروي او کله کله د معنوي تفهيم او ادراك په اړه ترينه کناره کشي هم کوي. دغه راز د اردو ژبې معروف نقاد محمد حسن عسکري په خپلو ليکنو کښې د ژنګ په نفسي زاويه نظر نقد کړى دى. موصوف د فرائيډ او رائيج کلك پلوى ؤ. او د استاذ ژنګ له نظري مباحثو سره اختلاف درلود. د عسکري صاحب په قول:

"فرائیڈ کے نظریات میں سماجی انقلاب کے عناصر موجود تھے۔ کیونکہ زر پرست معاشرے میں کوئی شخص ذہنی صحت بر قرار نہیں رکھ سکتا، ژنگ نے اس معاشرے کو یقین دلایا کہ اس ماحول میں بھی ذہنی صحت بر قرار رکھنا ممکن ہے، چنانچہ ان کے بقول نئی نفسیات جوہری توانائی سے بڑی قوت رکھتی تھی۔ ژنگ نے مالدار عورتوں کے پاؤں چاٹنے والی بلی بنادیا" (15)

خودديږ مقابل کښې خو يو نومورې نفسيات دان دا هم وئيلي دي چې فرائيډ د ذهن ژنګ د مدح او رائيخ د جسم ترجمان دی. د اجتماعي لاشعور په اړه چې د ادراك څومره غوټې ژنګ خلاصې کړې او د انساني شخصيت چې څومره رازونه د هغۀ د دې تعقل په وسيله رابرښېره شوي هغۀ په خپل ځائ د ستائينې او ډاډ ګيرنې حق لري. دا مونږ منو چې د هغۀ دغه نظريه نۀ خو د بنيادم د لوړې دوا کوي او نۀ ئې د جنس تشفي، خو دا حقيقت په خپل ځائ د منلو وړ دی چې د انساني نفس او روح حقيقتونه هم نظر انداز کول نۀ دي په کار. دغه رنګه علي عباس جلالپوري (مطبوعه فنون لاهوري فروري 1970ء) کښې د ژنګ په نفسي تعقلاتو نيوکې کړې دي. هغه سوال دا پورته کوي چې آيا دا د ژنګ د نظرياتو ژورتيا ده که عيب؟ چې هغه د اساطيراو قديم تهذيبونو د دستاوېزاتو څخه شواهد را اخلي او د نفسياتي علمي بحث شومه ئې ګرځوي. او هغه شيان را اخلي کوم چې علم النفس د بحث قابل نۀ ګڼي. د موصوف نقاد نيوکه په خپل ځائ د اهميت وړ ده. خو د آرکي ټائيپس نه چې کوم کار ژنګ اخستل غواړي هغه هم داسې په پټو سترګو نظر انداز کول هم نۀ دي په کار.

د آرکي ټائپس په اړه د ژنګ نفسياتي تجزيه او مشاهده دومره عاميانه هم نۀ ده څومره چې د علي عباس جلال پوري خيال دی. خو دومره ضرور وئيلی شو چې د هغۀ تحليلي نفسيات لږ ډېر مبهم ضرور دي. ژنګ خو په اصل کښې لاشعوري محرکات په شعور کښې د راوړلو هڅۀ کړې وه. او د خپل فکر و نظر په اساس ئې د بشر د شخصيت پېژندنې دپاره د فهم او ادراك د نوي امکاناتو د دريافت نه يوائې نوې لار متعين کړه. بلکې د سوچ او فکر د وسيع مشاهدې او تجزئې د جواز دپاره ئې يو نوی بنياد هم کښېښود. هغه د خپل تعقل له لارې د اسطورو او تجزئې او قديمو تهذيبونو څخه نخستمثالونه را واخلي او د ننې عصر له مزاج سره ئې کړيانې پېوند کوي. دا يو معمولي يا عام کار نۀ دی بلکې يو فکري او علمي کارنامه ده. دا بېله خبره ده چې په دغه نظريه

کښــې خاميــانې هــم شــته. د اشــکال او ابهــام لــه تهمتــه هــم نــۀ ده خلاصــه. د فکــري وحــدت پــه ځــائ د فکــري انتشــار احســاس هــم قــاري پــه کښــې محسوســوي، تکــراري خبــرې هــم پــه کښــې شــته خــو د دې بــاوجود هغــه د بنيــادم د شخصــيت پــه اړه ځينــې داســې نقطــې رابرڅېــره کــړي دي چــې د علــم الــنفس د نــورو اســتاذانو او پوهــانو دپــاره د مزيــد بحــث و مبــاحثې لار هــواروي. او ځينــې نقطــې پــه کښــې داســې هــم را برڅېــره شــوي چــې هغــه د شخصيت د مطالعې دپاره د بلا ارزښت او اهميت وړ دي.

پــه خصوصــي توګــه د موصــوف دغــه تعقــل يــا تصــور د ادبــي تنقيــد دپــاره د نــوي بصــيرت او علمــي بحــث امکانــات پيــدا کــړي چــې زمــا پــه شخصــي فکــر د علمــي تنقيــد دپــاره يــوه اهمــه اضــافه ده. خــو ســوال دا پيــدا کېــږي چــې د ژنــګ پــه شخصــي فکــر ادب او نفســيات پــه خپلــه کښــې څــومره نږدېکــت سره لري؟ ژنګ وائي:

1: د ادبــي تخليقــاتو تفهــيم او کماحقــه شــرحه د اجتمــاعي لاشــعور لــه لارې په اسانۍ سره کېداى شي.

2: انســـاني ســـائيکي د تمـــام انســـاني علـــوم و فنـــون دپـــاره د رحـــم مترادفه ده.

3: فــن پــاره د هغــې مځکــې پــه څېــر ده کومــه مځکــه چــې د غــذا د پيــدا کولو توان او قدرت لري.

4: تخليقي عمل د ښځينه خصوصيت همسر صلاحيت دى.

5: د لاشعور نهام ګودام د مور د رحم په څېر دى.

6: هغــه د ځينــو نــورو معتبــرو اديبــانو او ليکوالانــو پــه څېــر تخليــق يــوه رباني عطيه ګڼي.

7: هغــه پــه تخليــق کــار کښــې د خــدائي جنــون د ځــانګړي وصــف اعتــراف کوي.

8: هغـــه تخليـــق د اجتمـــاعي اظهـــار يـــوه عـــالمګيره وســـيله بللـــه او د اظهار دپاره ئې شخصي فکر و نظر د ګناه مترادف ګڼلى.

د ژنګ د ذکر شويو احساساتو په رڼا کښې مونږ وئيلی شو چې معياري ادبي تخليق د خدائي جنون د رد عمل په پرته ښخي منظر عام ته راتلی نۀ شي که چرته کومه ليکنه د دغې جذبې يا رښتينې وسيلې نه په پرته په شعوري ډول په وجود کښې راشي هغه د عالمي قلب او روح تشفي په يوه صورت کښې هم نۀ شي کولی. د هغۀ په خيال داسې ليکنې د لوړ ادبي معيار په تول هېڅ کله هم پوره نۀ شي ختلی. د ژنګ په خيال ادب ګرسره له درستې نړۍ سره د نفسي تعلق او رابطې يوه اهمه وسيله ده. د موصوف د دغې دعوې په اړه زۀ دلته د دوئ دغه دعوه نقل کول ضروري بولم چې "فاؤست" دګوئيټې تخليق نۀ ؤ بلکې ګوئيټې د "فاوسټ تخليق" ؤ ګوا هغۀ وئيل دا غوښت چې ګوئيټې خو د فاؤست د تخليق کولو دپاره صرف پيدا شوی ؤ. دا خبره په خپل ځائ د منلو وړ ده چې د ژنګ ادبي تنقيدي ليکنې ښخي کمې دي خو د ستائينې وړ خبره دا ده چې له دې باوجود د عالمي تنقيد په معياري ليکنو کښې شاملې دي. د مثال په توګه د جېمز جوائس د مشهور او معروف ناول "Ulysses" په اړه د هغۀ د تنقيدي بحث نه صرف يوه جمله دلته نقل کوم او خپله دا ليکنه په دغه جمله تمام ته رسوم.

"یہ ندی لا سے جنم لیتی ہے، اور اسی میں ختم ہو جاتی ہے. (16)

## کتابیات

(1)اختر، سلیم،ڈاکٹر، نفسیاتی تنقید، طبع دوئم، مجلس ترقی ادب لاہور، 2007ء، ص361
(2)خواجہ، کرنل، عبد الرشید، لفٹیننٹ، رموزِ تصوف، اشاعت اول، مجلس اخوان الصفا، کراچی، 1962ء، ص 26.
(3)ایضاً، ص 27.
(4)اختر، سلیم، ڈاکٹر، تنقیدی دبستان، اشاعت چہارم، مکتبہ عالیہ اردو بازار لاہور، 1997ء، ص109.
(5)صحرائی، عاصم، پروفیسر، نظر ثانی، ڈاکٹر اظہر علی رضوی، نفسی زاویے، ذوالفقار سٹیشنرز اینڈ بک سیلرز، کوئٹہ، 1987ء، ص31.
(6)جعفر، رفیق، نفسیات کا ارتقاء، (جلد اول) طبع اول، مطبع عالیہ، 17 حمید نظامی روڈ لاہور، 1982ء، ص209.
(7)احمد، سہیل، ژنگ کے نفسیاتی نظریات، (مختصر تعارف) بار اول، ادارہ تالیف و ترجمہ پنجاب یونیورسٹی لاہور، 1987ء، ص14.
(8)احمد، شہزاد، فرائیڈ کی نفسیات، سنگ میل پبلشرز لاہور، 1994ء، ص202.
(9)ایضاً، ص27.
(10)ایضاً، ص17، 18.
(11) قریشی، ایم اے، فرائیڈ اور لاشعور، طباعت دوئم، مجلس ترقی ادب لاہور، 2007ء، ص24.
(12))صحرائی، عاصم، پروفیسر، نفسی زاویے، ص17
(13) قریشی، ایم اے، فرائیڈ اور لاشعور، ص24
(14)جعفر، رفیق، نفسیات کا ارتقاء، ص209، 210
(15)احمد، سہیل، ژنگ کے نفسیاتی نظریات، ص72.
(16)اختر، سلیم، ڈاکٹر، نفسیاتی تنقید، ص191